

# د کمپیوټر اساسات



Ketabton.com



1398

ليکوال : احسان الله محمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

- خپل ګران پلار ته، چې د خپلو اولادونو د زده کړو په بهیر کې یې معنوي او مادی مرسته کړې ده.
- خپلې ګرانې مور ته، چې غېږه یې زما د روزنې لومړۍ زانګو ده او د زده کړو په اوږد سفر کې یې تل په خپلو دعاګانو نازولی یم.
- خپلو خوږ هېواد والو ته چې د ټکنالوژۍ په اړه غوارې معلومات ترلاسه کړي.

په پوره مینه یې ورته ډالۍ کوم

**(محمدي)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیڼ پاڼه

سریزه......و
لومړي فصل...... 1
کمپیوټر:...... 1
کمپیوټر تاریخچه: ...... 1
دوهم فصل...... 3
Hardware یا د کمپیوټر پروزه جات ...... 3
وردی یا داخلي وسایل (Input Device)...... 5
کیبورډ (Keyboard)...... 5
د کیبورډ معرفي ...... 6
کیبورډ ډولونه ...... 7
موس (Mouse)...... 8
د موس معرفي: ...... 8
Microphone میکروفون ...... 9
میکروفون ...... 9
د غږ انتقال په هوا کې...... 10
خارجي یا بهرني وسایل (Output Device)...... 10
مانیټور ...... 11
LCD ماینټور...... 12
پرنټر (Printer)...... 12
دریم فصل...... 14
ذخیره کونکي وسایل (Storage Device) ...... 14
د ذخیره کونکو وسایلو د اندازه ګیري واحدونه ...... 14
د کمپیوټر اصلي حافظه...... 14
د کمپیوټر حافظې ډولونه...... 15
اصلی حافظه(Main Memory) ...... 15

(c) ketabton.com: The Digital Library


څلورم فصل ........ 18
Software سافټویر ........ 18
سیسټم سافټویر (System Software) ........ 19
سافټویرو ډولونه ........ 19
د سیسټم سافټویر برخې : ........ 19
کاربردي سافټویر (Application Software) ........ 19
د ډیزاین برخې پروګرامونه : ........ 20
د سافټ شیټ برخې پروګرامونه : ........ 20
د سپریډ شیټ پروګرامونه : ........ 20
علمي پروګرامونه : ........ 21
انجینري پروګرامونه : ........ 21
د کمپیوټر ساینس پروګرامونه : ........ 21
د اقتصاد برخې پروګرامونه : ........ 21
پنځم فصل ........ 22
عامل سیسټم (Operating System) ........ 22
د عامل سیسټم ډولونه : ........ 22
عام سیسټمونه ........ 22
مایکروسافټ ویندوز(Microsoft Windows) ........ 22
مشهوره ویندوز یې په لاندې ډول سره دی : ........ 23
لس ویندوز کې لاندې عنوانونه مطالعه کو : ........ 23
Desktop ........ 24
Icon ........ 24
File ........ 24
Folder ........ 25
Start Menu ........ 25
Taskbar ........ 26

(c) ketabton.com: The Digital Library

WordPad Program .......... 26
MS Paint یا د نقاشۍ پروګرام .......... 27
Control Panel کنترول پنل .......... 27
Shortcut .......... 28
شپږم فصل .......... 29
وینډوز 10 مهم نوی خصوصیات .......... 29
Start Menu .......... 30
One Window for all Devices .......... 31
Cortana .......... 31
Xbox App .......... 32
Edge Browser .......... 33
Improved Multi-Tasking .......... 33
Snap Assist .......... 34
Snap Assist .......... 34
Universal apps can be Windowed .......... 35
Action Settings .......... 35
Continuum .......... 36
ډیکسټاپ ټبلیټ ته بدولول .......... 36
د سیسټم اړتیاوې .......... 36
پایله .......... 37
منابع .......... 38

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د الله پاک د بې شمېره احسانونو څخه یو هم علم دی، چې موږ ټولو انسانانو ته یې پېرزو کړی. علم هغه دریاب دی چې بې شمېره لارې پکې موجودې دي د هر ډول مشکلاتو څخه د خلاصون لپاره نو ما هم و غوښتل چې د خپل مسلک سره سم خپلو هېوادوالو لپاره د ټکنالوژۍ په برخه کې یوه ناچېزه ډالۍ وړاندې کړم.
تاسو یواځې په دغه کتاب بسنه مه کوئ، مخ ته لاړ شئ، نور اضافي معلومات ترلاسه کړئ او مطالعه یې کړئ. دا کتاب تاسو لپاره یواځې د پرمختګ یو رهنما دی.

لومړی ویلی شم چې اوس مهال کمپیوټر هغه ماشین چې ټوله نړۍ د هغې په واسطه کنترولیږي او دا ټول پرمختګ د همدغه کوچني کمپیوټر په واسطه رامنځته شول، اوس مهال هره برخه د کمپیوټر د استمال څخه بې برخې پاتې نه ده. د مثال په توګه کمپیوټر په انجینري برخه کې د نقشو د ډیزاین لپاره، په اقتصاد کې د معاملاتو د ترسره کولو، انلالین تجارت او داسې نور، د زارعت په برخه کې د پرمختللو ماشینونو په واسطه کارونه ترسره کول، د ژورنالیزم په برخه کې د راډیو، تلویزیون او داسې نورو رسنیو لپاره برنامې اماده کوي، خپله د کمپیوټر ساینس په برخه کې یې استمال او داسې په زرهاو نور مثالونه هم شته.

په دغه کوچني کتاب کې مې وغوښتل ،چې د کمپیوټر په اړه خلاصه معلومات، د کمپیوټر برخې، خصوصیات یې، عامل سیستمونه، مختلفو پروګرامونو نومونه مې هم پکې ذکر کړل او همدارنګه په آخر کې د ویندوز لس په اړه معلومات او هغه نوي خصوصیات چې پکې اضافه شوي دي. نو هیله لرم چې د پام وړ مو وګرځي او ښه ګټه ترې واخلی.

که چېرې وګورو په پښتو ژبه کې لیکنې هم کمې تر ستوګو کیږي، نو ځکه مې وغوښتل چې په پښتو ژبه یې ولیکم. که چېرې زما څخه کومه کمي پکې شوی وي نو ستاسو درنو لوستونکو څخه بخښنه غواړم او زما کوښښ دا دی تر څو نور داسې کتابونه ولیکم چې د هېواد د پرمختګ په ډګر کې نور هم ګټور تمام شي.
ستاسو د نېکو مشورو او دعاګانو په هیله!

**احسان الله «محمدي»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړي فصل

## کمپیوټر:

کمپیوټر د (**Compute**) له کلمې څخه اخستل شوی، چې معنیٰ یې محاسبه ده .

**د کمپیوټر تعریف :** کمپیوټر هغه برقي ماشین دی، چې د ورځنیو مسایلو د حل لپاره استعمالیږي.



**۱.۱ شکل ډیکستاپ کمپیوټر**

## کمپیوټر تاریخچه:

په انګلیسي ژبه کې کمپیوټر هغه ماشین ته ویل کیږي، چې ریاضیکي عملیې سرته رسوي. د کمپیوټر کلمه په 1646 کال کې انګلیسي ژبې ته اضافه شوه، په فرانسوي ژبه کې بیا Ordinateur ورته ویل کیږي، چې مرتب کونکي ماشین مانا ورکوي، په اسپانوي ژبه کې بیا Rdenador ورته ویل کیږي، پرتګالي ژبه کې Computador ورته ویل کیږي چې معنا یې محاسبه ده، ایټالیوي ژبه کې Calcolatore ورته ویل کیږي چې د حساب ماشین معنا ورکوي، په فنلنډي ژبه کې Tietokone ورته ویل کیږي چې معنا یې د اطلاعاتو ماشین دی، ایسلنډي ژبه کې tölva ورته ویل کیږي، په چنائي ژبه کې Dian nao ورته ویل کیږي چې معنا یې برقي مغز دی، فارسي ژبه کې ورته رایانه ویل کیږي، په دری کې کټ مټ کامپیوټر ورته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عمومي توګه کمپيوټر په دريو برخو باندې تقسيم شوی

1. Hardware:


له هغه فزيکي وسايلو څخه عبارت دی، چې په سترګو ليدل کيږي او د لمس وړ دي.

2. Software:

هغه پروګرامونه دي چې فزيکي وسايل په کار اچوي دا پروګرامونه موږ ته رهنمائي راکوي چې څه ډول د وسائلو څخه ګټه واخلو لومړيو کلونو کې کمپيوټر قيمته او سافټوير ارزانه و او نن سبا په ادارو کې تر ټولو لوړ مصارف په سافټويرو باندې کيږي.

3. Firmware:

هغه کوچني خو مهم پروګرامونه دي چې په دايمي ډول د سليکان په ټوټو کې ثبت شوي، نوی Firmware په فلش کې ثبت کيږي او کولی شو چې په محتوا کې هم تغيرات راولو.




۲.۱ شکل سافټوير او هاړدوير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل

## Hardware یا د کمپیوټر پروزه جات

هارډویر د کمپیوټر هغه الکترونیکي وسایل دي، چې د لمس وړ او په سترګو باندې لیدل کیږي،کله چې موږ کمپیوټر ته ګورو موږ دا فکر کو چې شاید دا ټول کارونه همدا وسایل ترسره کوي، خو برعکس د سافټویر په نشتون کې هېڅ کار نشي ترسره کولی.




**۱.۲ شکل هارډویر**

خو دغه پروزه جات یا الکترونیکې وسایل بغیر د سافټویر یا پروګرامونو څخه کار نشی ترسره کولی د یو بل په مرسته یې ترسره کولی شي یو بل ته لازم او ملزوم دي.

### هارډویر په لاندې ډولونو باندې تقسیم شوی

1- وردي وسایل (Input Device)

هغه وسایل چې د هغې په واسطه کمپیوټر ته ډیټا داخلیږي.

مثال: موس، کیبورډ، سکنر او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- خروجي وسایل (Output Device)
هغه وسایل چې د کمپیوټر څخه ډیټا خارجولی یا ترلاسه کولی شو.
مثال: مانیټور، پرنټر او داسې نور

کله چې موږ وغواړو د یو کمپیوټر څخه ګټه واخلو نو عامل سیستم ته ضرورت دی ، راځو د کمپیوټر هغه اساسی برخې چې کمپیوټر کې باید موجودې وي معرفي کړو.

- **Main Board :** هغه اصلي بورد څخه عبارت دی چې نور هارډویر ورسره وصل وې د ارتباط لپاره.
- **CPU :** په کمپیوټر کې هغه مرکزي نقطه ده ، چې خام یا لومړني معلوماتو د پروسس کولو دنده پر غاړه لري.
- **RAM : په** کمپیوټر کې له هغه حافظې څخه عبارت ده، چې هر ځل د کمپیوټر په خلاصولو، بندولو، یا reset کولو سره معلومات له منځه ځي.
- **VGA :** یا ګرافیک دنده یې د تصویرونو ایجاد او د هغوی انتقال مانیټور ته پر غاړه لري.
- **Power :** هغه قدرت څخه عبارت دی، چې داخل کیدونکي AC بدلوي DC ته د برق سیستم د قوي کولو لپاره، نو ویلي شو چې پاور سیستم تغذیه کوي هغه د خطي یا سویچنګ څخه عبارت دی.
- **H.D.D :** هغه حافظې څخه عبارت ده، چې عامل سیستم هلته نصب او اطلاعات په دایمي توګه هلته ذخیره کیږي د کمپیوټر په خلاصولو، بندولو یا reset کولو سره معلومات له منځه نه ځي.
- او داسې نور پروزه جات لکه کیبورډ، موس، اسپیکر، مانیټور، د غږ کارت او داسې نور.

**کمپیوټر لاندې څلور اساسی عملیی ترسره کوي**

1- لومړنیو معلوماتو اخستل
2- لومړنیو معلوماتو پروسسول
3- پایلې یا نتیجې برابر ول
4- معلوماتو ذخیره کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د کمپيوټر پروزه جات څلورو اساسی برخې لري

1- ورډي يا داخلي وسايل (Input Device)
2- خارجي يا بهرني وسايل (Output Device)
3- ذخيره کونکي وسايل (Storage Device)
4- د سيستم برخه (System Unit)

## وردی یا داخلي وسایل (Input Device)

هغه برقي يا ميخانيکي وسايل دي، چې د کمپيوټر سيستم ته اطلاعات داخلوي.

### مهم داخلي وسايل

1. کيبورډ
2. موس
3. سکنر
4. ميکروفون

## کیبورډ (Keyboard)

کيبورډ يو له هغو داخلي وسايلو څخه دی چې سيستم ته د ليکنې، اعدادو، سمبولونو داخلولو او همدارنګه شارکټو څخه د ګټه اخستنې لپاره استعماليږي د کيبورډ جوړښت د تحريري ماشين څخه په الهام اخستلو جوړ شوي .

د کيبورډ بټنې د يو خاص استندرد پر اساس د يو بل تر څنګ ځای پر ځای شوي دي او هره بټن يو خاص نمبر لري چې د هغې په واسطه معلومات کمپيوټر ته داخليږي، ځينې وخت سمبولونو د ليکو لپاره څو دانو بټنو ته ضرورت دی چې په يوه وخت کې يې ونيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲.۲ شکل کیبورد**

## د کیبورډ معرفي

کیبورډ د 102 څخه تر 104 پورې بټنې لري چې دغه تعداد د نړیوال استندرد په توګه پیژندل شوې او عموماً کیبورډ 19 میلي متره اوږوالی لري او ارتفاع یې بیا توپیر لري.



**۳.۲ شکل ګروپ لرونکي کیبورډ**


(c) ketabton.com: The Digital Library

## کيبورډ ډولونه

- ✓ Office کيبورډ چې ځانګړي د ټايپ لپاره دی
- ✓ مالتي مډيا کيبورډ
- ✓ څو اړخيزه کيبورډ
- ✓ Gaming Keyboard ځانګړي د ګيم لپاره دی
- ✓ لب ټاپ کيبورډ
- ✓ Numeric کيبورډ
- ✓ اتصالات کيبورډ
- ✓ بې سيم کيبورډ

## کيبورډ شپږ برخې لري

1- Control Keys
2- Function Keys
3- Typing Keys
4- Navigation Keys
5- Numeric Keys
6- Indicator Keys




**۴.۲ شکل کيبورد برخې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موس (Mouse)

موس هم د داخلي وسایلو څخه دی، چې د مختلفو عملیو د ترسره کولو لپاره استعمالیږي.



۵.۲ شکل موس

## د موس معرفي

د کمپیوټر موس درې برخې لري، چې په لاندې ډول دي.

1- Primary Button
2- Secondary Button
3- Wheel




۶.۲ شکل موس برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېسیم موس یو تصویر :**




**۷.۲ شکل بې سیم موس**

## میکروفون Microphone

میکروفون له هغه دستگاه څخه عبارت ده، چې ترلاسه کیدونکي صوتی انرژي الکترونیکي انرژي ته بدلوي لومړنی میکروفون 1877 کال کې د توماس ادیسون لخوا په امریکا کې جوړ شوی و، چې چندان کیفیت یې نه درلود.

په اوسني وخت کې موجوده میکروفون ارزانه، با کیفیته او په هرځای کې موندل کیږي، میکروفون په اوس وخت کې مختلفو وسایلو کې پیدا کیږي لکه کمپیوټر، موبایل، رادیو، لپټاپ او داسې نورو ډیوایسو کې پیدا کیږي.

میکروفون د اسپیکر برعکس غږ پورته کونکی نه دی بلکې صوتی غږ الکترونیکې غږ ته بدلوي.



**۸.۲ شکل میکروفون**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غږ انتقال په هوا کې

مخکې له دې چې میکروفون ته راشو چې څنګه کار ترسره کوي راځو لومړي هوا ته چې څنګه غږ پکې انتقال کیږي.

لکه څنګه چې پوهیږو هوا خالي فضا نه ده بلکې هوا کې مختلف ګازونه شتون لري چې د هغوی حجم ډېر دی، اتوم او مالکول تر منځ د زیاتې فاصلې په شتون کې نشو کولی چې هغه په سترګو وګورو چې دغو ګازونو له جملې څخه نیتروژن، اکسیژن، آرګون او کاربن دای اکساید ته اشاره کولی شو.

اوس کله چې موږ خبرې کو نو دا خبرې په هوا کې یو مالکول بل مالیکول ته د ضربې په واسطه لیږي تر هغه ځایه چې کولی شي هغه نه ورسته زموږ غږ نشي تلای چې دا هم یو مهم دلیل دی د غږ انتقال لپاره.



**۹.۲ شکل میکروفون بل ډول**

## خارجي یا بهرني وسایل (Output Device)

هغه وسایل چې د کمپیوټر څخه د اطلاعاتو خارج کولو یا یې ترلاسه کولو لپاره استعمالیږي خارجي یا بهرني وسایلو په نامه یادیږي.

**دلته یو څو خارجي وسایل به درته معرفی کړو**

- ✓ مانیټور
- ✓ پرنټر
- ✓ لوډسپکر
- ✓ پروجکتور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مانیټور

یو له خروجي ډیوایسونو څخه دی، چې د اطلاعاتو د ښودلو لپاره استعمالیږي.کله چې موږ په کیبورډ کې یو څه ټایپ کړو، نو هغه ټول په مانیټور باندې ښودل کیږي.



**۱۰.۲ شکل مانیټور**

**مانیټور درې ډولونه لري**

1- CRT مانیټور
2- LCD مانیټور
3- LED مانیټور

په تېرو کلونو کې د مانیټور مختلف ډولونه رامنځته شول، چې CRT مانیټور ډېر مشهور او اندازه یې د 15 - 17 انیچ پورې ده، چې تر اوسه یې هم 17 انیچ ډېر مشهوره او ډېر استعمالیدونکي مانیټور دی، اوس مهال 19,21,22 انیچ پورې هم رامنځته شول چې د دوی قیمت هم لوړ او ډېر نه استعمالیږي.

LCD هغه مانیټورونه دي چې قطر یې کم دی، تقریباً 4 سانتي متره اوږوالی لري. LCD مانیټور ته همدارنگه مایع کرسټال په نامه هم یادیږي. دغه ډول مانیټورونو ته باید په مستقیمې زاویې څخه وکتل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱.۲ شکل LCD ماینټور**

## پرنټر (Printer)

پرنټر یو له خروجي ډیوایسو څخه دی چې عموماً د کتابونو، مجلو، اخبارونو، رسالو، پوسټرو او نورو برخو کې استعمالیږي. پرنټر عموماً مخلتف ډولونه لري چې رنګ سایز او نورو برخو پر اساس ویشل شوی دی.




**۱۲.۲ شکل پرنټر**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۱۳.۲ شکل ساده او رنګه پرنټر**

## د سکنر تصویرونه




**۱۴.۲ شکل سکنر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

## ذخیره کونکي وسایل (Storage Device)

هغه وسایل چې د معلوماتو د ذخیره کولو لپاره استعمالیږي، د ذخیره کونکي وسایلو په نامه سره یادیږي.

**ذخیره کونکي وسایل په لاندي ډول سره تقسیم شوی دی :**

- ✓ فلش (Flash)
- ✓ سی ډی (Compact Disk)
- ✓ ډي وي ډي (Digital Video Disk)
- ✓ میموري (Memory Card)
- ✓ چیپ (Chip)

## د ذخیره کونکو وسایلو د اندازه گیري واحدونه

| | |
|---|---|
| **بایت (Byte)** | |
| **کیلو بایت(Kilo Byte)** | 1024 BYTE = 1KB |
| **میگا بایت(Mega Byte)** | 1024 KB = 1MB |
| **گیگا بایت(Gega Byte)** | 1024 MB = 1GB |
| **تیا بایت(Tera Byte)** | 1024 GB = 1TB |
| **پیتا بایت(Peta Byte)** | 1024 TB = 1PB |
| **اکسا بایت(Exa Byte)** | 1024 PB = 1EB |

## د کمپیوټر اصلي حافظه

هغه ځای چې هلته معلومات او پروگرامونه ذخیره کیږي د کمپیوټر د حافظې په نامه یادیږي. د کمپیوټر حافظه د انسان حافظې ته ورته ده، خو پدې تفاوت چې د کمپیوټر په حافظه کې ډېر معلومات د زیات وخت لپاره ذخیره کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغیر لدې نه چې کوچنی تغیر پکې راغلی وي او یا یې له یاده وتلی وي همدارنگه کمپیوټر هر ډول معلومات کوم چې په خپله حافظه کې لري هغه پروسس کولی شي CPU په لوړ سرعت سره هغه معلومات ګوري او هغه ته لاسرسی برابروي.

د کمپیوټر حافظه په وړو یا کوچنیو Cells باندې تقسیم شوې ده او هره یوه خانه ځانته آدرس لري هر هغه معلومات چې د کمپیوټر په حافظه کې لیکل شوي دي هغې ته ډیتا ویل کیږي چې ډیتا هر ډول کېدای شي په عمومي ډول سره کمپیوټر په صفر یو سیستم سره کار ترسره کولی شي چې ورسته هغه معلومات په دغه Cells کې ذخیره کیږي د نویو معلوماتو په راتګ سره هغه مخکېني معلومات له منځته ځي.



**۱.۳ شکل هارډیسک**

## د کمپیوټر حافظې ډولونه

1- اصلی حافظه (Main Memory)

2- کمکي حافظه (Secondary Memory)

## اصلی حافظه(Main Memory)


اصلی حافظه له هغه حافظې څخه عبارت ده، چې د کمپیوټر  د اصلي بورډ سره وصل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اصلی حافظه په دوه ډولونو باندې تقسیم شوې:**

1- (Red Only Memory)یا روم میموري

د کمپیوټر د اصلي میموري څخه عبارت ده چې یواځې لوستلي شې نشو کولی چې څه شی پکې ذخیره کړو .




**۲.۳ شکل روم میموري**

## د پورتنۍ حافظې دندې :

- د کمپیوټر د ټولو برخو امتحانول.
- هغه لاربنونې چې دلته ذخیره شوې وي هغې ته (BIOS) ویل کیږي.
- اطلاعات په دایمي توګه دلته ذخیره کیږي د برق په قطع کیدو سره معلومات لمنځه نه ځي.
- هغه اطلاعات چې دنده یې د کمپیوټر شروع کیدو کې شاملیږي دلته ثبتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- (Random Access Memory)یا رم میموري

رم ته د کمپیوټر فزیکي حافظه یا سیستم حافظه هم ورته ویل کیږي او د اصلي حافظې یوه برخه ده چې هم لوستل او لیکل پکې ترسره کیږي هر خانه یو ځانګړي آدرس لري او CPU کولی شي د دغه آدرس په واسطه معلوماتو ته مستقیم ډول لاسرسی ولري.



۳.۳ شکل رم میموري

## د رم حافظې دندې :

- اطلاعات په موقتي ډول سره پکې ذخیره کیږي.
- د CPU تر څنګ RAM هم د کمپیوټر په سرعت لوړولو کې مرسته کوي.
- دغه حافظه کې هغه معلومات چې پروسس کیږي هغه هم دلته ساتل کیږي.
- هر هغه پروګرام چې وغواړو د هغې نه ګټه واخلو لومړی باید RAM انتقال شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل

## سافټویر Software

د کمپیوټر ټول هغه پروګرامونه چې په سترګو لیدل کیږي او د لمس وړ نه دي. او کمپیوټر د دغه پروګرامونه په واسطه مختلفې عملیې ترسره کوي. کله چې موږ د دغو پروګرامونو څخه ګټه اخلو، نو باید د هغه استعمال مو په مختلفو برخو کې زده وي.




۱.۴ شکل عامل سیستم


## سافټویر په دوه ډولونو باندې تقسیم شوی دی

1- سیستم سافټویر (System Software)
2- کاربردي سافټویر (Application Software)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سیسټم سافټویر (System Software)

هغه سافټویرو څخه عبارت دی چې د هارډویر او نورو سافټویرو مدیریت لپاره استعمالیږي.




**۲.۴ شکل سافټویرو ډولونه**

### د سیسټم سافټویر برخې :

- عامل سیسټم (Operating System)
- ډرایور (Drivers)
- د کمپیوټر پروزه جاتو لپاره پروګرامونه

## کاربردي سافټویر (Application Software)

هغه سافټویرو څخه عبارت دی چې مختلفو برخو کې استعمالیږي مثال په ډول مایکروسافټ ورډ پروګرام چې د لیکنې لپاره د هغه څخه ګټه اخستل کیږي دغه ډول سافټویر په مختلفو برخو باندې تقسیم شوي دي چې تر ټولو مشهور یې په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۳.۴ شکل کاربردی سافټویر**

### د ډیزاین برخې پروګرامونه :

- فټوشاپ (Adobe Photo Shop)
- کورل ی ډراو (Adobe Corel Draw)
- اډوب پرېمیر (Adobe Premier)

### د سافټ شیټ برخې پروګرامونه :

- مایکروسافټ ورډ (Microsoft Word)
- نوټ پډ (Notepad)
- ورډ پډ (WordPad)

### د سپریډ شیټ پروګرامونه :

- فیسبوک (Facebook)
- میسنجر(Messenger)
- وایبر (Viber)
- ټلګرام (Telegram)
- ټویټر (Twitter)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### علمي پروګرامونه :

- د ټایپنګ زده ګړه (Typing Tutor)

### انجینري پروګرامونه :

- (Auto Cad)
- (3D Max)

### د کمپیوټر ساینس پروګرامونه :

- (Packet Tracer)
- (GNS3)
- (PuTTY)
- (Team Viewer)
- (VMware Workstation Pro)
- (Virtual Box)
- (Edraw Max)
- (Sublines)
- (Notepad++)
- (Atom)

### د اقتصاد برخې پروګرامونه :

- کویک بوکس (Quick Books)
- FreshBooks

او داسې ډېر نور پروګرامونه موجود دی مختلفو برخو کې استعمالیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم فصل

## عامل سیستم (Operating System)


عامل سیستم د کمپیوټر له سافټویرو څخه دی چې د کمپیوټر ټولي برخې کنټرول کوي ویلی شو چې عامل سیستم د کمپیوتر  د روح په حیث رول لوبوي لکه روح چې د انسان په بدن کې موجود وې انسان کولی شي چې مختلف کارونه ترسره کړي همداسې کمپیوټر کې چې عامل سیستم نه وي موجود نو کمپیوټر هیڅ ډول کار نشی ترسره کولی.

## د عامل سیستم ډولونه :

1- مایکروسافټ ویندوز (Microsoft Windows)

2- لینکس (Linux)

3- مک (Mac)




۱.۵ شکل عام سیستمونه

## مایکروسافټ ویندوز(Microsoft Windows)

دغه عامل سیستم مایکروسافټ کمپنې جوړ کړي دی، چې یو له مشهور او ډېر استعمالیدونکي عامل سیستم څخه دی په نړۍ کې دغه عامل سیستم یوه ځانګړتیا دا ده چې آسانه او ډېر استعمالیدونکي عامل سیستم دی چې هر څوک ورته په اسانی سره لاسرسی لرلي شي.

مایکروسافټ عامل سیستم هر څلور کاله ورسته نوې تغیرات پکې راځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲.۵ شکل مشهور عامل سیستمونه

### مشهوره ویندوز یې په لاندې ډول سره دی :

- ✓ Windows XP
- ✓ Windows Vista
- ✓ Windows Seven
- ✓ Windows Eight
- ✓ Windows Ten

### دلته به تاسو د ویندوز لس په اړه لږ معلومات در کړم

### لس ویندوز کې لاندې عنوانونه مطالعه کو :

- ✓ Desktop
- ✓ Icon
- ✓ Folder
- ✓ Start Menu
- ✓ Taskbar
- ✓ Notification Bar

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳.۵ شکل ډیسکټاپ

## Desktop

لومړني ځاي چې د کمپیوټر د خلاصولو څخه ورسته موږ ته ښکاریږي هغه ډیسکټاپ څخه عبارت دی دغه ځاي د لومړني یا اولیه معلوماتو ذخیره کولو لپاره استعمالیږي.

## Icon

د مختلفو پروګرامونو د ښودلو لپاره استعمالیږي چې د دغه ایکن په کلیک کولو سره دغه پروګرام خلاصیږي.

**دوه ډوله ایکن وجود لري چې په لاندې ډول سره دی**

- ✓ فایل (File)
- ✓ فولډر (Folder)

## File


ټول هغه شکلونه چې تاسو یې په کمپیوټر کې ګورئ نو هغه ته فایل ویل کیږي او هر یو فایل په سیستم کې یو ځانګړي پروګرام موږ ته ښیه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Folder

فولډر په واسطه کولی شو چې خپل فایلونه په منظم ډول پکې ذخیره کړو. د فولډر د جوړلو لپاره راځو مثال په ډول ډیسکټاپ ته راست کلیک کو او د هغې نه ورسته نیو ته راځو او فولډر برخې باندې کلیک کو چې فولډر جوړ شی یا د لاندې شارټکټ څخه ګټه اخلو.

CTRL + SHIFT + N




**۴.۵ شکل فولډر**

## Start Menu

ټول هغه پروګرامونه چې کمپیوټر کې نصب دی دلته قرار لري او ټولي هغه دندې چې کمپیوټر کې ترسره کیږي د دغه ځاي نه ورته لاسرسی لرلي شو لکه د کمپیوټر بندول ، د کمپیوټر ریسټارټ کول، د نصب شویو پروګرامونو خلاصول، د تنظیماتو خلاصول او داسې نور.




**۵.۵ شکل سټارټ مینو**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Taskbar

هغه ځای چې موږ ته هغه پروګرامونه ښايي چې کمپيوټر کې خلاص شوی وي او د استمال په حالت کې وي. هر هغه پروګرام کې چې موږ کار ترسره کو نو دا خپله يوه دنده ده او ټولي هغه برنامې چې خلاصوي نو دلته ښودل کيږي.

## WordPad Program

د مايکروسافټ له پروګرامونو څخه ده چې د ويندوز په انسټالولو سره دغه پروګرام هم نصب کيږي دغه پروګرام د کتاب ليکلو، چيټر ليکلو او يا هم د امتحان لپاره سوالونه او داسې نور اهدافو لپاره استعماليږي.

دغه پروګرام د سټارټ مينو څخه خلاصولي شو.





**٦.٥ شکل ورډ پت پروګرام**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## MS Paint یا د نقاشۍ پروګرام

دا د مایکروسافټ له پروګرامونو څخه ده چې دغه پروګرام د نقاشي، په تصویر کې د تغیراتو راوستو او داسې نورو اهدافو لپاره استعمالیږي.

دغه پروګرام هم د سټارټ مینو څخه خلاصولي شو.





**۷.۵ شکل پینټ پروګرام**

## Control Panel کنترول پنل

د کمپیوټر ټول تنظیمات دلته موجود دی چې د دوی په واسطه د کمپیوټر ټول هارډویر او سافټویر مدیریت کولی شو.

د کنترول پنل د خلاصولو لپاره د سټارټ منیو څخه ګټه اخلو چې تاسو به خلاص شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۸.۵ شکل کنترول پنل**

## Shortcut

د کار د اسانتیا او تیزوالي لپاره په کمپیوټر کې استعمالیږي چې د کیبورډ له بټنو څخه گټه اخلو. دغه ډول عملیو ته شارټکټ ویل کیږي.

کله چې په کیبورډ کې دوه یا هغه څخه زیاتو بټنو څخه همزمان گټه واخلو نو مختلفې نتیجې به ترلاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم فصل

## ویندوز 1 څخه شروع تر 10 پورې :




١.٦ شکل عامل سیستمونه تاریخچه

## ویندوز 10 مهم نوی خصوصیات

- ✓ Start Menu
- ✓ One Windows for all devices
- ✓ Cortana
- ✓ New Native Apps and Apps Store

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ Microsoft Edge Browser
- ✓ Improved Multitasking
- ✓ Snap assist
- ✓ universal apps can be windowed
- ✓ Action Center
- ✓ Continuum

## Start Menu

کله چې په سټارټ بټن باندې کلیک وکړو چپ طرف ته دې سکرین، نو تاسو ته دوه ځنګ په ځنګ پنل ښکاریږي چې لومړي کې یې هغه پروګرامونه چې تاسو په دی ورستیو کې خلاص کړي ښکاري او دوهم کې هغه Apps چې تر ټولو زیات استعمالیږي هغه تاسو ته ښکاري.

تاسو کولی شې چې سټارټ مینو فول سکرین کړې او سایز یې کوچنې کړې.



۲.٦ شکل سټارټ مینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## One Window for all Devices

مایکروسافټ کمپني کوښښ وکړ چې خپلو مشتریانو ته داسې تولید ولري چې هر ډول محیط کې کار وکړي هر ډول محیط څخه مطلب هر ډول ډیوایس کې د یوه برنډ لاندې کار ترسره کړي.

تاسو کولی شي چې ویندوز لس په ډیسکټاپ، لبټاپ، سمارټ فون او ټبلیت کې یو انټرفیس سره استعمال کړي او تاسو کولی شي چې د مایکروسافټ سره یو اکونټ جوړ کړي.




۳.٦ شکل ویندوز لس د ټولو لپاره

## Cortana

ویندوز لس کې دا نوی خصوصیت به په راتلونکې کې اضافه شي، چې د دغه ځانګرتیا په اضافه کولو سره به د یوز او کمپیوتر تر منځ ارتباط نور هم قوی کړي بغیر له دی نه چې خپلو ګوتو څخه ګټه واخلو د خپل غږ په واسطه په عملیه ترسره کو.

موږ ته دا وړتیا را کوي چې په هارډ ډرایو کې یو خاص فایل یا فولډر سرچ کړو، Cortana د ایمیل لیږلو وړتیا به هم ولري تاسو کولی شی چې ایمیل ولیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴.٦ شکل Cortana

## Xbox App

دا نوې خصوصیت په واسطه په کمپیوټر او ټبلیټ کې تاسو کولی شی چې هر ډول لوبې وکړي Xbox په ترو.

دا نوی ویندوز به دا وړیتا ولري چې Xbox حمایت کړي او همدارنگه په گرافیک برخه کې مفیده تمام شي.

دغه app په واسطه به موږ دا وړیتا ولرو چې خپل فعالیتونه ثبت کړو، تغیرات راولو او شریک یې کړو د ملګرو سره، ملګري به مو وکولي شی چې تاسو فعالیتونه وګوري.




۵.٦ شکل Xbox App

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Edge Browser

انټرنيټ Explorer په تيرو ويندوزنو کې موجود و خو په ويندوز لس کې بيا مايکروسافټ Edge Browser رامنځته کرو.نوي ځانګړتياوي وراضافه شوي چې د هغې له جملې څخه PDF support،a reading mode .

Edge Browser کې کولی شو چې خپل نظريات د خپلو ملګرو سره د نيټورک په واسطه شريک کړو.

Edge Browser کولی شي چې **Cortana هم حمايت کړي.**




**٦.١ شکل ايج بروزر**

## Improved Multi-Tasking

بل نوي خصوصيت چې اضافه شو ويندوز لس ته، هغه په يوه وخت کې په يوه سکرين باندې د څو دانو ډيسکټاپو څخه ګټه اخستنه ده. چې هر يو يې ځانته يو سکرين تشکيلوي.

دغه ډول سکرين ته مجازی سکرين هم ويل کيږي چې په هر يو مجازی سکرين کې مختلف ډول پروګرامونه څخه ګټه اخستي شو.


(c) ketabton.com: The Digital Library




**٧.٦ شکل يوه وخت کې ډېر کارونه کول**

## Snap Assist

مايکروسافټ کمپني دا خصوصيت هم updated کړو په ويندوز 10 کې، چې په يوه وخت څو پروګرامونه د سکرين څلورو خواوو ته حرکت وکړي شي.




**Snap Assist ٨.٦**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Universal apps can be Windowed





۹.٦ شکل نړیوال اپ کتلی شی

## Action Settings

وینډوز 10 یوه نوي لاره وړاندي کړه د notifications لپاره چې ټول په یوه ځاي کې وجود ولري.

هر هغه نوټیفکیشن چې راځې هغه به په یوه ځاي کې موجود وې او یوز به په اساني سره هغه کتلي شي لکه په سمارټ فون کې.




۱۰.٦ شکل اکشن سټنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Continuum

د دغه ځانګړتیا په واسطه موږ کولی شو چې خپل سکرین موډ ټبلیټ موډ ته بدل کړو نو د کار لپاره نوټیفکیشن برخې ته ځو هلته په ټبلیټ موډ باندې کلیک کو ډېر په اسانی دا کار کولی شو.



۱۱.٦ شکل ډیکسټاپ ټبلیټ ته بدولول

## د سیسټم اړتیاوې

- ✓ **Processor** : 1 gigahertz (GHz) or faster
- ✓ **RAM** : 1 GB (32-bit) or 2 GB (64-bit)
- ✓ **Free hard disk space** : 16 GB
- ✓ **Graphics card** : Microsoft DirectX 9 graphics device

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

کمپیوټر هغه برقي ماشین دی چې د محاسباتو لپاره استمالیږي خو دا تعریف له لومړنیو تعریفونو څخه دی، خو اوس مهال زما په اند کمپیوټر هغه برقي ماشین دی چې په ټولو برخو کې د انقلاب راوستلو په برخه کې برشمیره کارونه ترسره کړي او په راتلونکې کې هم دوام لري.

نو درنو لوستونکو کمپیوټر یواځې هیڅ کار نشي ترسره کولی، همدا عامل سیستم و کمپیوټر یې کار ترسره کولو ته آماده کړ چې د کمپیوټر روح لقب هم ورکولي شو.

دغه کتاب کې مو د کمپیوټر تعریف، کمپیوټر په اړه ډول ډول معلومات، برخې یې، هارډویر او سافټویر، مشهور سافټویر، ویندوز لس معرفي او خصوصیات مو مطالعه کړل.

نو درنو لوستونکو

تاسو یواځې په دغه کتاب اکتفا مه کوي مخ ته لاړ شي نور اضافي معلومات ترلاسه کړي او مطالعه یې کړي دا کتاب تاسو لپاره یواځې یو رهنما دی د پرمختګ لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منابع

Basic Computer Tutorial by Emal Zazai

http://www.microsoftlicensereview.com/?tag=windows-10-licensing

http://blogs.windows.com/

https://www.sarzamindownload.com/contents/670/

https://www.sarzamindownload.com/contents/670/

https://www.systemgroup.net/intellectual-

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**